


Dowmloaded From :
Telegram : Aryan Pashto Library
WhatsApp : 00971501455350
Facebook Page : آریان پښتو کتابتون

# بسم الله الرحمن الرحیم

Dowmloaded From :
Telegram : Aryan Pashto Library
WhatsApp : 00971501455350
Facebook Page : آریان پښتو کتابتون

Dowmloaded From :
Telegram : Aryan Pashto Library
WhatsApp : 00971501455350
Facebook Page : آریان پښتو کتابتون

# نړيوالې ذهني پوښتنې

راټولوونکی او ژباړونکی:
**انجنیر نظام الله هدف**

۱۴۰۱ل/ 2023م

بسم الله الرحمن الرحیم

Dowmloaded From :
Telegram : Aryan Pashto Library
WhatsApp : 00971501455350
Facebook Page : آریان پښتو کتابتون

**کتاب پېژندنه**

| | |
|---|---|
| **د کتاب نوم:** | نړیوالې ذهني پوښتنې |
| **لیکوال او ژباړن:** | انجنیر نظام الله هدف |
| **کمپوز چارې:** | د خالد (رض) خصوصي ښوونځي اداره |
| **ډیزاین چارې:** | عبدالهادي اثر ۰۷۸۸۰۰۳۷۰۳ / ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳ |
| **خپرندوی:** | ګودر خپرندویه ټولنه-ننګرهار |
| **چاپشمېر:** | یو زر (۱۰۰۰) ټوکه |
| **چاپکال:** | ۱۴۰۱.ل/ 2023م |

**د ترلاسه کولو ځای**

**ګودر کتاب پلورنځی، اسحاق زی مارکیټ لاندینی پوړ – جلال آباد**

**اړیکې: -**

**ایمیل: -**

***

**ډالۍ**

**[زما د کشرې خور روح ته، چې مړینې یې ډېر ودردولم او دردوي مې]**

**۱. پوښتنه:** په شپدو کوونکو ژوندي موجوداتو کې تر ټولو لېږ شوده کوم څناور کوي؟

**ځواب:** فيل يا هاتي.

**۲. پوښتنه:** هندوانه سابه دي که مېوه؟

**ځواب:** سابه.

**۳. پوښتنه:** که چېرته تاسو ترمامیټر د چالان پکي لاندې کېږدئ، نو د هغې د تودوخې په درجه کې کوم توپير راځي؟

**ځواب:** نه.

**۴. پوښتنه:** د نړۍ د لومړۍ لومړي وزيرې نوم څه دی؟

**ځواب:** ښاغلې بندر انايکې(سري لنکا)

**۵. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو خالصه ژبه کومه یوه ده؟

**ځواب:** عربي.

**٦. پوښتنه:** د اسلامي نړۍ د ټولو نه لويه جنازه د کوم سړي وه؟

**ځواب:** د مصر د باچا جمال ناصر.

**۷. پوښتنه:** د بلوچستان ور کوم ځای ته ویل کېږي؟

**ځواب:** چمن ته.

**۸. پوښتنه:** نړيوال سيند کوم سيند ته ويل کېږي؟

**ځواب:** د ډينيوب سيند ته.

**۹. پوښتنه:** د اوبو پلار کوم سيند ته ويل کېږي؟

**ځواب:** د مسسپي سيند ته.

**۱۰. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو لومړی طلاق چا چا ته ورکړ؟

**ځواب:** حضرت اسماعيل (ع) خپلې ښځې عماره بنت سعيد ته ورکړ.

**۱۱. پوښتنه:** د فرانس ناوې کوم ښار ته ويل کېږي؟

**ځواب:** فيرس.

**۱۲. پوښتنه:** د يورپ خوابښې کوم ښار ته ويل کېږي؟

**ځواب:** ډنمارک.

**۱۳. پوښتنه:** د جنتیانو لومړی غذا به څه شی وي؟

**ځواب:** د کب د ځګر کباب.

**۱۴. پوښتنه:** په قران کې د څو سبو نومونه راغلي دي؟

**ځواب:** د څلورو: سابه ،بادرنګ ،هوګه ،پیاز.

**۱۵. پوښتنه:** کوم شاعر په ژوندینې د خپل نوم سره د مرحوم نوم لیکلو؟

**ځواب:** جوش ملیح ابادي.

**۱۶. پوښتنه:** لینډ آف سمایلز (land of smiles) کوم هېواد ته ویل کېږي؟

**ځواب:** تایلینډ.

**۱۷. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو ګران بیه عطر کوم دي؟

**ځواب:** (سلیو کریسچن ایمپیریل مجستي پرفیوم) چې شاوخوا لس میلیونه شپږ سوه زره روپۍ بیه لري.

**۱۸. پوښتنه:** بلیک ډیت کومې ناروغۍ ته ویل کېږي؟

**ځواب:** طاعون ته.

**۱۹. پوښتنه:** د ۱۹۲۲ م کال په ۲ نېټه د امریکا ټیلیفونونه د یوې دقیقې له پاره د څه له امله بند شوي وو؟

**ځواب:** د ټیلیفون د ایجادوونکي الیګزینډر ګراهم بیل د مرګ له امله.

**۲۰. پوښتنه:** د انګریزي تورو (i,j) د پاسه ټکو ته څه ویل کېږي؟

**ځواب:** ټایټل (title)

**۲۱. پوښتنه:** په نړۍ کې د لومړي ځل لپاره نکریزې چا وکارولې؟

**ځواب:** حضرت ابراهیم (ع).

**۲۲. پوښتنه:** د نړۍ په کوم هېواد کې په جاولو بندېز دی؟

**ځواب:** سنګاپور.

**۲۳. پوښتنه:** د ناشتې لغوي مانا څه شی ده؟

**ځواب:** خالي خېټه.

**۲۴. پوښتنه:** دجال به په نړۍ کې څو ورځې پاتې وي؟

**ځواب:** څلوېښت ورځې، چې لومړۍ ورځ به یې د یو کال، دویمه ورځ به یې د

يوې مياشتې، دريمه ورځ به يې د يوې اونۍ او پاتې ورځې به يې د عامو ورځو برابرې وي.

**۲۵. پوښتنه:** زبور او انجيل په کومو ژبو نازل شوي وو؟

**ځواب:** په عبراني ژبو؟

**۲۶. پوښتنه:** د نړۍ کوم لوی لوبغاړي ويلي وو، چې که زه لوبه وګټم، نو اسلام به قبول کړم؟ چې بيا يې لوبه وګټله او اسلام يې قبول کړو.

**ځواب:** محمد علي کلې.

**۲۷. پوښتنه:** بيت العتيق کوم ځای ته ويل کېږي؟

**ځواب:** بيت الله شريف ته.

**۲۸. پوښتنه:** تاريخ کومو دوو کسانو ته د بت ماتوونکو لقب ورکړی و؟

**ځواب:** حضرت ابراهيم (ع) او سلطان محمود غزنوي ته.

**۲۹. پوښتنه:** د نړۍ لومړي ريل ګاړي جوړوونکي جارج سټيفن د خپل عمر په څو کلنۍ کې خپل نوم په ليکلو زده کړلو؟

**ځواب:** په اوولس کلنۍ کې.

**۳۰. پوښتنه:** په اسلامي سلطنت کې لومړی کوم ټاپو شامل شو؟

**ځواب:** قبرس.

**۳۱. پوښتنه:** په کومه ورځ چې انسان په سپوږمۍ پل کېښود په هغه ورځ د سپوږمۍ څومه نېټه وه؟

**ځواب:** پنځم جمادي الأول.

**۳۲. پوښتنه:** په فټبال او هاکي کې لوبډلمشر څنګه پېژندل کېږي؟

**ځواب:** د مټې نه يې پټۍ تړلې وي.

**۳۳. پوښتنه:** په پښتو کې د کمپيوټر مانا څه شی ده؟

**ځواب:** شماروونکی.

**۳۴. پوښتنه:** د اسټراليا جومات د پاکستان په کوم ښار کې دی؟

**ځواب:** په لاهور ښار کې؟

**۳۵. پوښتنه:** کله چې ګراهم بيل ټيليفون ايجاد کړو، نو په لومړۍ مياشت څومره

ټيليفونونه خرڅ شول؟

**ځواب:** شپږ سيټه.

**۳٦. پوښتنه:** د هيپي برت ډې ټو يو (Happy birth day to you) سندره د چا ملکيت دی؟

**ځواب:** د وارنر چيپل ميوزيک (Warner Chapel Music) سندريز شرکت سره ددې سندرې حقوق خوندي دي.

**۳۷. پوښتنه:** يو لاهور د پاکستان هېواد کې دی. بل لاهور په کوم هېواد کې دی؟

**ځواب:** د امريکا د ورجينيا په ايالت کې.

**۳۸. پوښتنه:** هغه کوم خوراکي شی دی، چې په ګرمېدو وچېږي؟

**ځواب:** هګۍ.

**۳۹. پوښتنه:** (CNG) د څه شي لنډيز دی؟

**ځواب:** د (Compressed Natural Gas).

**۴۰. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو وړوکی سمندر کوم دی؟

**ځواب:** ارکټيک سمندر (Arctic Ocean).

**۴۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې پورته هم ځي او ښکته هم راځي، خو خوځېږي نه.

**ځواب:** د تودوخې درجه.

**۴۲. پوښتنه:** د انسان په خېټه کې تر ټولو اوږد غړی کوم دی؟

**ځواب:** وړې کولمې.

**۴۳. پوښتنه:** کوم هېواد په خلا کې د نيالګيو د کښنولو هڅه وکړه؟

**ځواب:** جاپان.

**۴۴. پوښتنه:** د ډيلي سره کلا چا ودانه کړې وه؟

**ځواب:** شاه جهان.

**۴۵. پوښتنه:** پنځه پيشوګان پنځه مږې په پنځه دقيقو کې نيسي. ۱۰۰ پيشوګان به ۱۰۰ مږې په څومره دقيقو کې ونيسي؟

**ځواب:** په ۵ دقيقو کې.

**۴۶. پوښتنه:** په نړۍ کې تر ټولو ډېر اوچتونکي (لفټونه) په کوم هېواد کې دي؟
**ځواب:** په ایټالیه کې.
**۴۷. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو زيات سره زر په کوم هېواد کې پیدا کېږي؟
**ځواب:** په چین کې.
**۴۸. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو زيات سره زر کوم هېواد کاروي؟
**ځواب:** چین.
**۴۹. پوښتنه:** د ټين سپورټ(Ten Sport) په نوموتي لوبيز چينل کې د (Ten) مطلب څه شی دی؟
**ځواب:** تاج انټر ټينمينټ نيټورک(Taj Entertainment Network).
**۵۰. پوښتنه:** په ګاړو باندې د ليکل شويو دغو تورو(4WD) مطلب څه شی دی؟
**ځواب:** فور ويل ډرائيو(Four Wheel Drive) يانې د کوم ګاړي چې څلورواړه ټايرونه د انجن په توان سره چلېږي.
**۵۱. پوښتنه:** په نړۍ کې تر ټولو ډېر څلي په کوم هېواد کې دي؟
**ځواب:** په سوډان کې چې شمېر يې ۲۲۰ ته رسېږي.
**۵۲. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو نوموتی څلی په کوم هېواد کې دی؟
**ځواب:** د مصر هېواد کې.
**۵۳. پوښتنه:** کوم دوه انسانان بې پلاره او بې موره زېږېدلي دي؟
**ځواب:** ادم (ع) او حوا(ع)
**۵۴. پوښتنه:** د نړۍ کوم هېواد د سمندر د سطحې نه لاندې پروت دی؟
**ځواب:** نيدرلينډ.
**۵۵. پوښتنه:** هغه کوم کاڼی دی، چې نه په اوبو کې ډوبېږي او نه د اور په تپ تودېږي؟
**ځواب:** حجر اسود(تور کاڼی)
**۵۶. پوښتنه:** د پيدايښت پر مهال د وړوکي ماشوم د سترګو رنګ څنګه وي؟
**ځواب:** اسماني.
**۵۷. پوښتنه:** د نړۍ په کوم مشهور جومات کې ټول کال دوه فرض لمونځونه

کېږي؟

**ځواب:** د نمرې جومات.

**۵۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې پاسنی برخه یې ارتوئ او لاندینی برخه یې پخوئ.

بیا یې پاسنی برخه خوری او لاندینی برخه یې ارتوئ.

**ځواب:** د جوارو وړی.

**۵۹. پوښتنه:** کوم شاعر د خپلې مړینې نېټه پخپله راوویسته کومه چې بېخي سمه وخته؟

**ځواب:** مومن خان مومن.

**٦۰. پوښتنه:** د انګریزي ژبې هغه کوم ناول دی چې د (۵۰۰۰) څخه زیاتې کلمې لري، خو یو ځل هم په کې د (E) توری نه دی کارول شوی؟

**ځواب:** (Gadsby).

**٦۱. پوښتنه:** کله چې زه دوه کلن وم. زما د ورور عمر زما نیمایي و. اوس زه سل کلن یم. نو زما د ورور عمر څومره شو؟

**ځواب:** ۹۹ کاله، کله چې زه دوه کلن وم، نو هغه یو کلن و. له دې امله اوس هم په عمر کې یو کال توپیر دی.

**٦۲. پوښتنه:** د کوم هېواد درې پلازمینې دي؟

**ځواب:** د جنوبي افرېقا

**٦۳. پوښتنه:** کوم هېواد پلازمېنه نه لري؟

**ځواب:** د نارو جمهوریت(Republic of Nauru).

**٦۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څومره ناولی کېږي. هغومره سپینېږي؟

**ځواب:** توره تخته.

**٦۵. پوښتنه:** په نړۍ کې تر ټولو ډېر پښتانه په کوم هېواد کې دي؟

**ځواب:** په پاکستان کې.

**٦٦. پوښتنه:** د پاکستان وروسته د نړۍ په بل کوم هېواد کې پښتانه ډېر دي.

**ځواب:** په اوسني افغانستان کې.

**۶۷. پوښتنه:** په کومه نېټه یو باچا مړ شو، بل باچا شو او بل پیدا شو؟
**ځواب:** په ۷۸۶ ع کال د ۱۳ او ۱۴ سیپټمبر تر منځ هادي مړ شو. هارون رشید باچا شو او مامون رشید پیدا شو.
**۶۸. پوښتنه:** هغه کوم ځای دی، چې هلته په ورتګ هر څوک افسوس کوي؟
**ځواب:** هدیره.
**۶۹. پوښتنه:** د رحمت ښار کوم ښار ته ویل کېږي؟
**ځواب:** مکې مکرمې ته.
**۷۰. پوښتنه:** هغه کوم څناور دی، چې غوښه خوړل یې حلال او خرڅول یې حرام دي؟
**ځواب:** د قربانۍ څناور.
**۷۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د سهار نه تر ماښامه د لمر په لوري ګوري؟
**ځواب:** لمر ګل.
**۷۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې په ورځ کې څو واره اوچتوو او څو واره یې ږدو؟
**ځواب:** پل.
**۷۳. پوښتنه:** امجد او اسلم دوه ملګري دي. یوه ورځ د امجد چرګې د اسلم په کور کې هګۍ واچوله. تاسو ووایئ، چې هګۍ د چا شوه؟
**ځواب:** هګۍ د چرګې شوه. که په هر ځای کې یې اچولي وي.
**۷۴. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې انسان په کې په اسانۍ ننبتی شي، خو په اسانۍ ترې وتی نه شي؟
**ځواب:** سخت وخت.
**۷۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د ژوندي نه مړ او د مړ نه ژوندی پیدا کېږي؟
**ځواب:** هګۍ.
**۷۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې کله یې مېږه کوي، نو ښځه خپه کېږي او چې ښځه یې کوي، نو مېړه خپه کېږي؟
**ځواب:** په خوب کې ښځار.

**۷۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په یخنۍ او ګرمۍ دواړو کې یخ وي؟

**ځواب:** واوره.

**۷۸. پوښتنه:** هغه کومه مېوه ده، چې مونږ یې اخیستی نه شو؟

**ځواب:** د محنت مېوه.

**۷۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې هم خوړلی شو او هم یې سکلی شو؟

**ځواب:** کوپره.

**۸۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی. چې څوک یې د ډوبېدو په حال کې هم ووینې خو ژغوري یې نه؟

**ځواب:** لمر.

**۸۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تر ټولو وروسته هم ګرځي؟

**ځواب:** لاسي ساعت یا ګړی.

**۸۲. پوښتنه:** هغه کومه مېوه ده، چې په هغې کې ۲۵ سلنه هوا شتون لري؟

**ځواب:** مڼه.

**۸۳. پوښتنه:** هغه کوم هېواد دی، چېرته چې اسماني رنګی شی نه شې اغوستی؟

**ځواب:** شمالي کوریا.

**۸۴. پوښتنه:** هغه کوم څناور دی، چې غږ نه شي ایستلی؟

**ځواب:** زرافه.

**۸۵. پوښتنه:** هغه کوم څناور دی. کوم چې تر درې کلونو پورې ویده کېدی شي؟

**ځواب:** ګونګی.

**۸۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی. چې څوک ورته مخامخ شي، په خندا کېږي؟

**ځواب:** هنداره یا ائینه.

**۸۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څومره یې کاروو، هغومره ډکېږي؟

**ځواب:** عقل.

**۸۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ستاسو په سر تېر هم شي، نو په تاسو هیڅ نه کېږي؟

**ځواب:** الوتکه.

**۸۹. پوښتنه:** هغه کومه مېوه ده، چې په يوه پښه ګوډه ده؟

**ځواب:** ګوډ ام.

**۹۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په کال کې يو ځل اخيستل کېږي؟

**ځواب:** کليز.

**۹۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې که دوه وي، نو کارول کېږي، خو چې يو وي، نه کارول کېږي؟

**ځواب:** بوټان.

**۹۲. پوښتنه:** د کراچۍ پخوانی نوم څه و؟

**ځواب:** کلاچۍ.

**۹۳. پوښتنه:** هغه کوم کار دی، چې د هغې په کولـو سره، د پيـازو د وړو کولـو پـر مهال د سترګو څخه اوښکې نه بهېږي؟

**ځواب:** د پیاز نیم ساعت په اوبو کې اچولو سره.

**۹۴. پوښتنه:** هغـه کـوم ځـای دی، چېرتـه چـې د دولسـو سره دوه جمع شي، نـو ځواب يې يو کېږي؟

**ځواب:** ګړۍ.

**۹۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، کوم چې مونږ د کارولو د مخه ماتوو؟

**ځواب:** هګۍ.

**۹۶. پوښتنه:** هغه کومه کارخونه ده، چېرته چې ۳۲ نارينه او يوه ښځه کار کوي؟

**ځواب:** خوله، ځکه چې په هغې کې ۳۲ غاښونه او يوه ژبه وي.

**۹۷. پوښتنه:** هغه کوم کال دی، چې که سم يې وليکو او که نسکور توپير نه کوي؟

**ځواب:** نولس سوه يو نوي(۱۹۹۱).

**۹۸. پوښتنه:** هغه کومه مرغۍ ده، چې په خپلو غوږونو اورېدل کولی شي؟

**ځواب:** ښاپېرک.

**۹۹. پوښتنه:** د جينۍ د بدن کومه برخه مونږ خوړلی شو؟

**ځواب:** لېړو يا بنډۍ(Lady Finger)

**۱۰۰. پوښتنه:** لومړۍ وحې د رمضان په کومه نېټه نازله شوه؟
**ځواب:** د رمضان په ۱۷ نېټه.
**۱۰۱. پوښتنه:** مسلمان به څومره مهال په دوزخ کې وي؟
**ځواب:** د نړۍ په عمر يانې ۷۰۰۰ (اووه زره کاله).
**۱۰۲. پوښتنه:** کوم نبي ۹۹۲ (نهه سوه دوه نوي) کاله عمر درلود؟
**ځواب:** حضرت شعيب (ع).
**۱۰۳. پوښتنه:** هغه کوم حيوان دی، چا چې تر اوسه خپله مور نه ده ليدلې؟
**ځواب:** لړم.
**۱۰۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د چا سره لېږ وي او که ډېر خو د هيچا نه خوښېږي؟
**ځواب:** ويره يا ډار.
**۱۰۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په گرځېدو گرځېدو ستړی کېږي، خو که د هغې مرۍ پرې شي، بيا روانېږي؟
**ځواب:** پنسل.
**۱۰۶. پوښتنه:** هغه کوم شی دی، کوم چې موږ د خوراك له پاره راوړو، خو خورو يې نه؟
**ځواب:** لوښی.
**۱۰۷. پوښتنه:** هغه کوم ځای دی، چېرته چې په کال کې ۱۲(دولس) مياشتې وي او اوس هم هلته ۲۰۱۱ روان دی؟
**ځواب:** د افريقا د ايتو پيا ښار.
**۱۰۸. پوښتنه:** هغه کوم هېواد دی، چې هيڅ فوځ نه لري؟
**ځواب:** کوستا رائيس.
**۱۰۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې موږ سره په ليك لوست کې مرسته کوي، خو نه هغه قلم دی او نه کاغذ؟
**ځواب:** عينکې؟

**۱۱۰. پوښتنه:** د وسوسې او الهام تر منځ څه توپیر دی؟

**ځواب:** وسوسه د شیطان له خوا نه وي او الهام د الله (ج) له خوا نه.

**۱۱۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تل گرځي او تر قیامته به گرځي؟

**ځواب:** ټړی.

**۱۱۲. پوښتنه:** د یو وکیل زوی گاړی وجنگو. کله چې یې روغتون ته یووړو، نو ډاکټر وویل: دا خو زما زوی دی؟

**ځواب:** ځکه چې ډاکټره د هغه مور وه.

**۱۱۳. پوښتنه:** هغه کوم سورت دی، چې دوه ځله نازل شوی دی؟

**ځواب:** د فاتحې سورت.

**۱۱۴. پوښتنه:** د انسان د بدن کومه برخه د پیدایښت څخه وروسته جوړیږي؟

**ځواب:** غاښ.

**۱۱۵. پوښتنه:** هغه څه شي دی، چې مونږ یې ښکلولی او اوچتولی نه شو، خو ماتولی یې شو؟

**ځواب:** ژمنه یا وعده.

**۱۱۶. پوښتنه:** هغه کوم حالت دی، چې په هغې د مېړه له خوا ښځې ته دروغ ویل جایز دي؟

**ځواب:** د ښځې د خوشحالولو پر مهال.

**۱۱۷. پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی، د کوم چې ۹(نهه) دماغ، ۳(درې) زړونه او وینه اسماني رنگې وي؟

**ځواب:** آکټوپس.

**۱۱۸. پوښتنه:** هغه کومه مرغۍ ده چې که وهم سوځي، نو نه مړه کیږي؟

**ځواب:** اور ورکی.

**۱۱۹. پوښتنه:** د ټولو نه لومړی صابن چا ایجاد کړو؟

**ځواب:** حضرت سلیمان (ع).

**۱۲۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د هغې په سکلو سره تنده نوره هم ډیریږي؟

**ځواب:** سیگریټ.

**۱۲۱. پوښتنه:** د هغې څناور نوم واخلئ، چې هغه د سر د غوڅولو څخه یـوه اونـۍ وروسته هم ژوندی وي.

**ځواب:** کوکروچ.

**۱۲۲. پوښتنه:** د کوکا کولا اصلي رنګ څنګه دی؟

**ځواب:** شین.

**۱۲۳. پوښتنه:** په ټوله نړۍ کې څومره دولت دی؟

**ځواب:** ۷۰ (اوویا) ټریلین ډالر.

**۱۲۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چـې د هغـه یـوه ښـپه او درې سـترګې دي او هـر څوک یې امر مني؟

**ځواب:** د ټراپیک څراغ.

**۱۲۵. پوښتنه:** انسان د مرګ وروسته تر څومره وخت پورې د نورو خبرې اورېـدی شي؟

**ځواب:** تر یو ساعت پورې.

**۱۲۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې سـهار پیـدا کېـږي. ماسپښـین بـوډا کېـږي او ماښام مړ کېږي؟

**ځواب:** اخبار یا ورځپاڼه.

**۱۲۷. پوښتنه:** که چېرته شین کور د سرو خښتو څخه جوړېږي، نو سـور کـور بـه د کومو خښتو څخه جوړ شي؟

**ځواب:** نو سور کور به هم د سرو خښتو څخه جوړ شي، ځکه چې د خښتو رنـګ هم سور وي.

**۱۲۸. پوښتنه:** دشپې د جرابو د اغوستو سره څه کېږي؟

**ځواب:** که څوک جرابې واغوندي او اوده شي، نو دشپې بیخـي نـه پـاڅېږي او یـا بیخي لږ پاڅېږي.

**۱۲۹. پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی، چې مونږ یې خواړه پټوو او خورو یې؟

**ځواب:** د شاتو مچۍ.

**۱۳۰. پوښتنه:** هغه کوم کار دی، چې د عینکو نه پرته نه کېږي؟

**ځواب:** د عینکو والا کار.

**۱۳۱. پوښتنه:** هغه کومه تجربه ده، چې هر څوک یې کوي، خو چاته یې ویلی نه شي؟

**ځواب:** د مړینې تجربه.

**۱۳۱. پوښتنه:** هغه کوم قلم دی، چې لیکل پرې نه شي کېدی؟

**ځواب:** هغه هغه قلم دی، د کوم چې نوکه د سپینو زرو څخه جوړه شوې وي؟

**۱۳۲. پوښتنه:** هغه کوم نعمت دی، چې الله (ج) یوازې وروستي امت تـه ورکـړی دی؟

**ځواب:** لمونځ.

**۱۳۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې وینو خو الله (ج) یې نه وینې؟

**ځواب:** خوب.

**۱۳۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د پېړیو پېړیو راهیسې شته، خـو عمـر یـې د یوې میاشتې څخه ډېر نه دی؟

**ځواب:** سپوږمۍ.

**۱۳۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په نارینه کې د پیدایښت وروسته پیـدا کېـږي او په ښځینه کې نه پیدا کېږي؟

**ځواب:** ږیره یا بریتونه.

**۱۳۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې اور یې سوځولی نه شي او اوبه یې یخولی نـه شي؟

**ځواب:** واوره.

**۱۳۷. پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی، چې نه هګۍ اچوي او نه بچي راوړي؟

**ځواب:** هر نارینه حیوان.

**۱۳۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څومره ډېر وي هغومره سم نه ښکاري؟

**ځواب:** تیاره یا تورتم.

**۱۳۹. پوښتنه:** هغه کومې دوه مېوې دي، چې په اوربېدو سره یې وزن کمېږي؟

**ځواب:** مڼه او کېله.

**۱۴۰. پوښتنه:** هدیره تل د روغتون کوم لوري ته وي؟

**ځواب:** بهر لوري ته.

**۱۴۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په یو وخت د کور دننه هم وي او بهر هم؟

**ځواب:** د کور د بهر ور.

**۱۴۲. پوښتنه:** کوم انسان ته د ناروغتیا څخه گټه رسېږي؟

**ځواب:** ډاکټر.

**۱۴۳. پوښتنه:** د غر څخه راغوځېدونکې اوبه کوم وخت ودرېږي؟

**ځواب:** د ځمکې سره تر جنگېدو وروسته.

**۱۴۴. پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی، چې په ودرېدو یې قد وړوکی کېږي او په کېناستو یې قد غټېږي؟

**ځواب:** سپی.

**۱۴۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په چاودلو سره هم اواز نه کوي؟

**ځواب:** شوده.

**۱۴۶. پوښتنه:** په دروغو ویلو سره زمونږ د بدن کومه برخه تودېږي؟

**ځواب:** پوزه.

**۱۴۷. پوښتنه:** هغه کوم ژوندی موجود دی چې هگۍ او شوده دواړه ورکوي؟

**ځواب:** دوکاندار.

**۱۴۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هغه حرام دی، خو د هغې په سکلو سره ثواب تر لاسه کېږي؟

**ځواب:** غوسه.

**۱۴۹. پوښتنه:** انټرنېټ ته په پښتو کې څه وايي؟

**ځواب:** د تارونو جال.

**۱۵۰. پوښتنه:** د باران په اوبو کې کوم ویټامین پیدا کېږي؟

**ځواب:** (B 12) ویټامین.

**۱۵۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د پیدا کېدو سره سم الوزي؟

**ځواب:** لوګی.

**۱۵۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې خواړه ورکړې ګرځي، او که خواړه ور نه کړې ودرېږي؟

**ځواب:** ګړی.

**۱۵۳. پوښتنه:** د مرګ پرښته په ورځ کې څو ځله زمونږ کور ته راځي؟

**ځواب:** دوه ځله.

**۱۵۴. پوښتنه:** ایت الکرسي د کوم سورت چوکی ده؟

**ځواب:** د بقرې سورت.

**۱۵۵. پوښتنه:** هغه کوم هیواد دی، چېرته چې بربنډه ګرځېدونکو ته سزا ورکول کېږي؟

**ځواب:** بلجیم.

**۱۵۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې سهار شین، ماسپښین تور او ماښام سپین وي؟

**ځواب:** د پیشو سترګې.

**۱۵۷. پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی، چې تل ژوندی وي؟

**ځواب:** جیلي فش.

**۱۵۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ښې یې تل د بدن دننه وي؟

**ځواب:** بوټان.

**۱۵۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې متې او مری لري، خو مخ او لاسونه نه لري؟

**ځواب:** کمیس.

**۱۶۰. پوښتنه:** هغه کوم کار دی، چې هر څوک یې په نړۍ کې کوي؟

**ځواب:** بوډاتوب.

**۱۶۱. پوښتنه:** تاسو پوهېږئ چې د تاروزکي یا پتنګ څو سترګې وي؟

**ځواب:** ۱۲۰۰(دولس سوه).

**۱۶۲. پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی، چې د اوسپنې مېخ هم خوړلی شي؟
**ځواب:** مگر مچ.
**۱۶۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې نوی وي، نو اوږد وي، خو چې زړېږي، نو وړوکی کېږي؟
**ځواب:** شمه یا موم بتۍ.
**۱۶۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په لمر کې پیدا کېږي او په سوري کې مړ کېږي؟
**ځواب:** خوله.
**۱۶۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څومره یې وچوې، هغومره لمدېږي؟
**ځواب:** څانپاک.
**۱۶۶. پوښتنه:** هغه کوم هېواد دی، چې نوم یې سرچپه کړې د یو انسان نوم ترې جوړېږي؟
**ځواب:** روم، چې مور ترې جوړېږي.
**۱۶۷. پوښتنه:** هغه کوم ښوونکی دی، چې مونږ ته سبق ښيي، خو خبرې نه کوي؟
**ځواب:** کتاب.
**۱۶۸. پوښتنه:** هغه کومه مېوه ده، چې ماشومان یې په شوق خوري او که وروستې دوه توري یې لرې شي. نو د یو ډول سبو یا سبزۍ نوم ترې جوړېږي؟
**ځواب:** الوچه، الو ترې جوړېږي.
**۱۶۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د لور په شان کوږ دی،اووه رنگونه لري او ټوله نړۍ یېویني؟
**ځواب:** سره کاسه او شنه کاسه، یانې د باران وروسته د اسمان پر غاړو رنگ په رنگ پټه.
**۱۷۰. پوښتنه:** د یو کور ورور او خور دي.چې ورور ویده شي، نو خور راوېښېږي. او چې خور ویده شي، نو ورور راوښېږي؟
**ځواب:** لمر او سپوږمۍ.

**۱۷۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې نه څه څښي او نه څه خوري، خو پر مونږ د ټولې نړۍ سیل کوي؟

**ځواب:** لروینون یا ټلویزیون.

**۱۷۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې شین یې خولې ته واچوې، چې راویې باسې نو سور وي؟

**ځواب:** پان یو ډول نشه یي توکی چې پنجابیان یې کاروي.

**۱۷۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې خورو، خو ختمېږي نه؟

**ځواب:** خپل ماغزه.

**۱۷۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ډېر وړوکی دی، زمونږ وینه سکي، خو مونږ یې د نیولو څخه ناتوانه یو؟

**ځواب:** ورګه.

**۱۷۵. پوښتنه:** هغه کوم کب دی، چې نه هګۍ اچولی شي او نه لامبلی شي؟

**ځواب:** وریت شوی کب.

**۱۷۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ګرځي ګرځي خو ستړی کېږي نه او وزرې لري خو الوتلی نه شي؟

**ځواب:** پکی.

**۱۷۷. پوښتنه:** هغه کوم بانک دی، چېرته چې پیسې نه ترلاسه کېږي؟

**ځواب:** بلډ بانک یا د وینې بانک.

**۱۷۸. پوښتنه:** د شودو پلورونکي سره یو پنځه کیلو یي او یو درې کیلو یي لوښی دی.

ووایئ چې هغه به تاسو ته یو کیلو شوده څنګه درکوي؟

**ځواب:** شوده پلورونکی به درې کیلو یي لوښی دوه پېرې ډک کړي. په پنځه کیلو یي لوښي کې تر اچولو وروسته چې کوم شوده په درې کیلو یي لوښي کې پاتې شي، هغه به یو کیلو شوده وي.

**۱۷۹. پوښتنه:** هغه کوم صحابي دی، د چا سره چې د حضرت محمد (ص) دوه لوڼو واده کړی و؟

**ځواب:** عثمان (رض).

**۱۸۰. پوښتنه:** په نړۍ کې د لومړي ځل له پاره گناه چا وکړه؟

**ځواب:** شیطان.

**۱۸۱. پوښتنه:** د نړۍ تر ټولو لومړۍ گناه کومه ده؟

**ځواب:** د شیطان کینه او کبر، کله چې هغه ادم (ع) ته د سجدې کولو نه اکار وکړلو.

**۱۸۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې جینکۍ یې خوري هم او اغوندي یې هم؟

**ځواب:** لونگ.

**۱۸۳. پوښتنه:** هغه کوم ځای دی، چېرته چې ۱۰۱(یو سل او یو) تنه ورځې او ۱۰۰(سل) تنه بېرته راځي؟

**ځواب:** برات یا د واده جلوس.

**۱۸۴. پوښتنه:** هغه کومه ونه ده، چې لرگی نه لري؟

**ځواب:** د کېلې ونه.

**۱۸۵. پوښتنه:** هغه کوم جرم دی، چې د هغې په کوښښ کولو سزا شته، خو په جرم کولو یې سزا نشته.

**ځواب:** ځانوژنه.

**۱۸۶. پوښتنه:** د نړۍ لومړی روغتون په کوم ځای کې جوړ شوی و او نوم یې څه و؟

**ځواب:** په بغداد کې جوړ شوی و او نوم یې بیمارستان و.

**۱۸۷. پوښتنه:** هغه کوم ډاکتر دی، چې بې بلنې راځي او مونږ له ستن وهي؟

**ځواب:** ماشی.

**۱۸۸. پوښتنه:** هغه کوم دوه شیان دي، چې غټ بیا بیا ځي او وړوکی یو ځل ځي؟

**ځواب:** د ساعت غټه او وړه ستنه.

**۱۸۹. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې د خاورو نه راووته یوه ښاپیرۍ او پـه سر کـړې يې ده د پاڼو بوجۍ؟

**ځواب:** ملۍ.

**۱۹۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په کږه ملا ټول پټی خوري؟

**ځواب:** لور.

**۱۹۱. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې یو گز اوږدوالی لري او کله امسا شي، کله گل؟

**ځواب:** چترۍ.

**۱۹۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ورته مخامخ شې، چې ته څه کوې هغـه هـم همغسې کوي؟

**ځواب:** ائینه.

**۱۹۳. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې میدان ته وزي، په لتو وهل کېږي. کله یوه خـوا کله بله خوا منډې وهي او خلك ورپسې وي؟

**ځواب:** فټ بال.

**۱۹۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هره ورځ جېبونه او مرۍ پـرې کـوي. خـو نـه غل دی او نه قاتل؟

**ځواب:** گنډونکی یا خیاط.

**۱۹۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ورته ووایـې مـه راځـه، راځـي او چـې ورتـه ووایې راځه نو نه راځي؟

**ځواب:** شونډې.

**۱۹۶. پوښتنه:** دا څه شی دی، یو بڼ دی، ۱۲ ونې لري. په هره ونه کې ۳۰ خاښونه دي او هر خاښ ۲۴ پاڼې لري؟

**ځواب:** یو بڼ (یو کـال)، ۱۲ ونـې (۱۲ میاشـتې)، ۳۰ خاښـونه (۳۰ ورځـې) او ۲۴ پاڼې (۲۴ ساعتونه) دي.

**۱۹۷. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې نری پری دی. د پاسه يې اور لانـدې يـې اوبـه دي. چې ښکلوې يې شور کوي. چې خبرې ورته کوې غلی وي؟

**ځواب:** چيلم.

**۱۹۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې بند یې کړې وړوکی کېږي او چې پرې یې پردې غټېږي؟
**ځواب:** لوګی.
**۱۹۹. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې تود شي، سور کېږي او چې سوړ شي توریږي؟
**ځواب:** سکاره.
**۲۰۰. پوښتنه:** د اڅه شی دی، چې د یو ځای نه بل ځای ته ځي، خو خوځېږي نه؟
**ځواب:** سرک یا لار.
**۲۰۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې خبرې کوي خو خوراک څښاک نه کوي؟
**ځواب:** ټلویزیون یا راډیو.
**۲۰۲. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې مور او لور یو بن ته ننوتل. درې منې یې وشکولې او هرې یوې یوه یوه وخوړه؟
**ځواب:** مور، لور او لمسی.
**۲۰۳. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې رنګ یې زیړ دی. بېره یې په خېټه کې ده. په یوه پښه ګوډ دی او دوه سرونه لري؟
**ځواب:** ام.
**۲۰۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې خوله یې وړه او خېټه یې غټه ده او چې ویې دروې نو څملي؟
**ځواب:** مشک.
**۲۰۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هر څومره یې وهې نو خوګېږي نه او خلک پرې خوشحالېږي؟
**ځواب:** ډول.
**۲۰۶. پوښتنه:** هغه څی شی دی، چې څلور پښې لري. څلور سرونه لري. څلور متې لري او بند په بند تړل شوی دی؟
**ځواب:** کټ.

**۲۰۷. پوښتنه:** دا څه شی دی، یوه کوټه ده. د لرګو ډکه ده. ټول لرګي یې په اوږدوالي او پېړوالي کې مساوي دي؟

**ځواب:** اورلګیت.

**۲۰۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د ورځې ویده وي. دشپې ژاړي او چې څومره ژاړي هغومره وړوکی کېږي؟

**ځواب:** شمه.

**۲۰۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تور دی. کارغه نه دی.په ونه خېژي. شادو نه ده. غټې سر لري. هاتي نه دی. نرۍ ملا لري پړانګ نه دی؟

**ځواب:** مېږی.

**۲۱۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې همداسې روان وي، خو ځای ته نه رسېږي؟

**ځواب:** ګړی.

**۲۱۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، جامې یې نیلي دي. خولی یې شنه ده. ملا یې کږه ده؟

**ځواب:** بانجی.

**۲۱۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، په خوله غلی دی. په لکۍ خبرې کوي. دشپې ویښ وي او د ورځې ویده وي؟

**ځواب:** اور ورکی.

**۲۱۳. پوښتنه:** دا څه شی دی، د یو میدانه پنځه سرکونه راوتي دي. څه لنډ دي او څه اوږده؟

**ځواب:** د لاس ګوتې.

**۲۱۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څومره یې ویشو هغومره ډېرېږي؟

**ځواب:** علم.

**۲۱۵. پوښتنه:** هغه زمونږ د بدن کومه برخه ده، چې که نوم یې سرچپه شي. نو د یو څښل کېدونکي شي نوم ترې جوړېږي؟

**ځواب:** سر، چې سرچپه شي، رس ترې جوړېږي.

**۲۱۶. پوښتنه:** هغه د کومې سبزۍ نوم دی، چې که چېرته دویم توری ترې لرې شي، نو د یوې مېوې نوم ترې جوړېږي؟

**ځواب:** کرېلا.

**۲۱۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په ثانیو کې د نړۍ هر ځای ته رسېږي او د هر انسان سره شته؟

**ځواب:** سوچ.

**۲۱۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هم تریخ دی او هم خوږ؟

**ځواب:** ژبه.

**۲۱۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هر چېرته ځې درسره ځي؟

**ځواب:** سیوری.

**۲۲۰. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې د شیشې یو کور دی او دننه یې د اوسپنې سامان دی؟

**ځواب:** بلب.

**۲۲۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې نه ښپې لري او نه لاسونه. خو بیا هم ټوپونه وهي؟

**ځواب:** توپ یا بال.

**۲۲۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې اوبه وسکي مړ کېږي او چې خواړه وخوري ژوندی کېږي؟

**ځواب:** اور.

**۲۲۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ویې هم تړې بیا هم ګرځي؟

**ځواب:** ګړۍ یا ساعت.

**۲۲۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې یو مړ شي. بل ژوندی شي او چې یو ژوندی شي بل مړ شي؟

**ځواب:** لمر او سپوږمۍ.

**۲۲۵. پوښتنه:** دا څه شی دی، شین کور دی. سره یې دېوالونه دي. او دننه پـه کـې تور مېلمانه ناست دي؟

**ځواب:** هندوانه.

**۲۲۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په تاسو پورې اړه لري. خـو نـور خلـك یـې ستاسو نه ډېر کاروي؟

**ځواب:** ستاسو نوم.

**۲۲۷. پوښتنه:** کوم انگیسي پنځه توریز ویی ډېر لنډېږي، کله چې ورسره شـاته دوه توري نور ورزيات شي؟

**ځواب:** د انگلیسي د (short) ویی. که چېرته په پای کې یې (er) ورزيات شي. نو (shorter) یانې ډېر لنډ ترې جوړېږي.

**۲۲۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو یې ډېر اخلئ او ډېر یې بږدئ؟

**ځواب:** پل یا قدم.

**۲۲۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په اوبو کې ښکاري، خو هیڅکله نه لندېږي؟

**ځواب:** سیوری.

**۲۳۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې خلـك یـې د خـوراك لـه پـاره اخـلي، خـو هیڅکله یې نه خوري؟

**ځواب:** قاب یا پلیټ.

**۲۳۱. پوښتنه:** د انگلیسي ژبې کوم توری بره او ښکته یو ډول ښکاري؟

**ځواب:** (swim) لمبا.

**۲۳۲. پوښتنه:** د (Friday Wednesday, Sunday,) پرته درې پرلـه پسـې ورځـې کومې دي؟

**ځواب:** (Yesterday, Today, Tomorrow).

**۲۳۳. پوښتنه:** کوم ویی په لاندې کتار پورې اړه نه لري؟

(stop prop crop drop or flop)

**ځواب:** (or).

**۲۳۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې غـورځېږي خـو ماتېږي نـه او مـاتېږي خـو غورځېږي نه؟

**ځواب:** شپه او ورځ.

**۲۳۵. پوښتنه:** دا څه شی دی، یو ساتونکی دی. د یـو پـل دپاسـه ناسـت دی. یـو کس د هغه په واسطه سم لیدل کولی شي. خو نور خلک حیرانېږي، چې څـه یـې پټ کړي دي؟

**ځواب:** عینکې یا چشمې.

**۲۳٦. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې تاسو یې د سر د غوخولو له پاره چـاقو کـاروئ او کله چې مري، نو بیا ژاړئ؟

**ځواب:** پیاز.

**۲۳۷. پوښتنه:** زه تل ستاسو مخې ته یم. خو تاسو ما نشئ لېدلی.

**ځواب:** راتلونکی.

**۲۳۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې خلک یې په پرانیستلو پـوهېږي خـو پـه تړلـو یې نه پوهېږي؟

**ځواب:** هگی.

**۲۳۹. پوښتنه:** هغه کوم رنگ دی، چې خوړل کېږي؟

**ځواب:** نارنج.

**۲۴۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د خلا پرته یوه ټوله کوټه ډکوي؟

**ځواب:** رڼا.

**۲۴۱. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې په (e) پیل کېږي. په (e) پای ته رسېږي او دننه یې ډېر هېوادونه دي؟

**ځواب:** (Europe) ایوروپ.

**۲۴۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې سر لري، خو هیڅکله نـه ژاړي. (bed) لـري خو هیڅکله نه ویده کېږي. منډه وهلی شي، خو هیڅکله نه گرځي. (bank) لري، خو پیسې نه لري؟

**ځواب:** سیند.

**۲۴۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې پنځه ګوتې لري، خو ژوندی نه دی؟
**ځواب:** لاسکشې.
**۲۴۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ښکته او پورته ځي، خو خوځېدی نشي؟
**ځواب:** پوړۍ یا زینې.
**۲۴۵. پوښتنه:** هغه کوم اووه توریز ویی دی، چې په سلګونو لیکونه په کې دي؟
**ځواب:** (mailbox) د لیکونو صندوق.
**۲۴۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ډېر ښکاري خو لږ لیدل کېږي؟
**ځواب:** تیاره.
**۲۴۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې بره ځي، هیڅکله لاندې نه راځي؟
**ځواب:** عمر.
**۲۴۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تل له تاسو سره وي، خو تل یې پرېږدئ؟
**ځواب:** ستاسو ګوته، یانې د ګوتې نښه.
**۲۴۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې خوراک کوي ژوندی وي او چې څښاک کوي مړ کېږي؟
**ځواب:** اور.
**۲۵۰. پوښتنه:** د انګلیسي د الفابیټ کوم توری تر ټولو ډېرې اوبه لري؟
**ځواب:** (c)، ځکه چې په انګلش کې سمندر ته ویل کېږي.
**۲۵۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تور او سپین دی او په ټوله نړۍ کې لوستل کېږي؟
**ځواب:** ورځپاڼه یا اخبار.
**۲۵۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د یوې ودانۍ نه اوچت ټوپ وهلی شي؟
**ځواب:** هر هغه شی دی، چې ټوپ وهلی شي، ځکه چې ودانۍ ټوپ نشي وهلی.
**۲۵۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په (e) پیل کېږي او په (e) ختمېږي خو یوازې یو (letter) په کې ځایږي؟
**ځواب:** (envelope).

**۲۵۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تل زمونږ سره ګرځي. مونږ پرې ښـپې ږدو. خو هيڅکله ورنه ښنه نه غواړو؟
**ځواب:** زمونږ بوټان.

**۲۵۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو يې لرئ، که چېرته ماسره يې شريک کړئ. بيرته يې رانه نشئ اخيستلی؟
**ځواب:** راز.

**۲۵۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ډېر شيان معلوموي. خو که چېرې تاسو د هغه د مخ عددونو ته وګورئ. نو د ۱۳ عدد په کې نشئ پيداکولی؟
**ځواب:** ساعت.

**۲۵۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ ژړوي خو مونږ يې نشو ژړولی؟
**ځواب:** پياز.

**۲۵۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تل زمونږ په لور راروان دی، خو هيڅکله نه راسيږي؟
**ځواب:** راتلونکی.

**۲۵۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څوک يې جوړوي. څوک يې خرڅوي. او څوک يې اخلي هغه يې هيڅکله نه کاروي. او هغه څوک چې هغه کاروي. هيڅکله نه پوهيږي، چې دی هغه کاروي؟
**ځواب:** تابوت.

**۲۶۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د انګليسي ژبې ويی (bark) لري خو ماتول نه کوي؟
**ځواب:** ونه

**۲۶۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، ټوله ورځ او شپه الوزي، خو هيڅېرته نه ځي؟
**ځواب:** بيرغ.

**۲۶۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د فيل هومره لوی دی، خو هيڅ وزن نه لري؟
**ځواب:** د فيل سيوری.

**۲۶۳. پوښتنه:** د ساحل پلار درې زامن لري. عمران، عدنان او ......؟
**ځواب:** ساحل.
**۲۶۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ډېرې کیلي گانې لري، خو یو ور نشي-بېرته کولی؟
**ځواب:** کي بورډ(keyboard).
**۲۶۵. پوښتنه:** که تاسو په يو پوړيزه ودانۍ کې اوسېږئ. دغه کور ټول د سرو لرگو نه جوړ شوی دی. نو د پوړو يا زينو رنگ به يې څنگه وي؟
**ځواب:** يو پوړيزه ودانۍ خو زينې نه لري.
**۲۶۶. پوښتنه:** که لاندې توري په ترتيب شي، نو کومه يوازينۍ کلمه به ترې جوړه شي؟
(just one word)
**ځواب: (just one word).**
**۲۶۷. پوښتنه:** دا څه شی دی، يو شين کور دی. د هغې په منځ کې سپين کور دی. د سپين کور په منځ کې سور کور دی. د سور کور په منځ کې ډېر ماشومان دي؟
**ځواب:** هندوانه.
**۲۶۸. پوښتنه:** د اختر نه مخکې اختر په کوم ځای کې راځي؟
**ځواب:** په قاموس کې.
**۲۶۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې کله ورته گورئ تور وي، چې کله يې کاروئ سور وي او چې کله يې ارتوئ خړ وي؟
**ځواب:** چارکول(charcoal).
**۲۷۰. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې تاسو يې نن لرئ. خو سبا بل لرئ. ذخيره کېدی نشي. ځای نه نيسي. هغه شی دی، چې تاسو ولېد. خو تاسو يې نه وينئ؟
**ځواب:** ياد.

**۲۷۱. پوښتنه:** هغه د انګلیسي ژبې کوم توری دی، چې په منځ کې یې (kst) په سر کې یې (in) او په پای کې یې (and) راغلی وي؟
**ځواب:** (inkstand).
**۲۷۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو یې د ځان سره هر ځای ته وړی شئ، خو هیڅ وزن نه لري؟
**ځواب:** نوم.
**۲۷۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې یو ځل تاو شي، بیا تاسو نه شئ ننوتی، او چې بېرته راتاو شي، نو نشئ راوتی؟
**ځواب:** کیلي یا چابي.
**۲۷۴. پوښتنه:** کومه ونه تاسو په خپل لاس کې وړی شئ؟
**ځواب:** (palm) کجوره.
**۲۷۵. پوښتنه:** څوک د کړکۍ ګانو په خرڅولو په بیلیونونو ډالر راټولوي؟
**ځواب:** مایکروسافټ (Microsoft).
**۲۷۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې نیولی شو، خو لیدلی یې نشو؟
**ځواب:** روژه.
**۲۷۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په چاقو یې ووهئ، تاسو ژړوي او هغه نه ژاړي؟
**ځواب:** پیاز.
**۲۷۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې یوه روغه سترګه لري، خو څه پرې نهویني؟
**ځواب:** د ګنډلو ستن.
**۱۷۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ډېرې وخت لامبي او د هر ځل لامبلو سره کوچنی کېږي؟
**ځواب:** صابون.
**۲۸۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې شپږ توري په کې شتون لري. که څېرې وروستی توری یې لرې شي، نو دولس پاتې کېږي؟
**ځواب:** (dozens)، (dozen) پاتې کېږي، دولس یا درجن ته ویل کېږي.

**۲۸۱. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې په تېر کې موندل کېږي. په اوس کې جوړېږي او راتلونکی یې نشي ژغورلی؟
**ځواب:** تاریخ.
**۲۸۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې پاکوې یې توریږي او چې ناولی کوې یې سپینیږي؟
**ځواب:** توره تخته.
**۲۸۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې لومړۍ برخه یې ارتوئ. دویمه برخه یې پخوئ. دریمه برخه یې خورئ او څلورمه برخه یې ارتوئ؟
**ځواب:** د جوارو وږی.
**۲۸۴. پوښتنه:** یو چلوونکی یا ډرایور ګاډی چلوي. هغه درې ورونه یا دروازې ویني. یو د سرو زرو ور، دویم د سپینو زرو ور او دریم د الماسو ور. هغه به کوم ور مخکې پرانیزي؟
**ځواب:** د ګاډي ور.
**۲۸۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د یوې لوړې ودانۍ نه یې راوغورځوئ، هیڅ نه خوږېږي. خو چې اوبو ته یې وغورځوئ سمدلاسه مړ کېږي؟
**ځواب:** کاغذ.
**۲۸۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ژوندی وي، خښوو یې او چې مړ شي راوباسو یې؟
**ځواب:** بوټی یا ونه.
**۲۸۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د نارینه په پټلون کې وي او د ښځینه په پټلون کې نه وي؟
**ځواب:** جیب.
**۲۸۸. پوښتنه:** ستا د مور د ورور اوښی په کټ کې ویده دی، نو څوک په کټ کې ویده دی؟
**ځواب:** ستا پلار.

**۲۸۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې دوه خلک سره یو ځای کوي، خو یوازې یو کس لمس کوي؟

**ځواب:** د واده ګوته یا ګوتمه.

**۲۹۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو ورته ځواب ورکوئ، خو هغه له تاسو نه پوښتنه نه کوي؟

**ځواب:** ټیلیفون.

**۲۹۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د میلیونونو کلونو راهیسې شتون لري، خو د یوې میاشتې نه زیات عمر نه لري؟

**ځواب:** میاشت.

**۲۹۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څلور (eyes) لري، خو لیدل نشي کولی؟

**ځواب:** (MISSISSIPPI).

**۲۹۳. پوښتنه:** کله چې تاسو د ټیلیفون د تڼو یا بټنو په تخته کې ټول عددونه ضرب کړئ. کوم عدد په لاس درځي؟

**ځواب:** (0، که چېرته (0) په هر عدد کې ضرب شي، نو د ضرب حاصل يې همغه (0) کېږي.

**۲۹۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د خپل بوی نه ډېر خوږ دی؟

**ځواب:** ژبه.

**۲۹۵. پوښتنه:** د پرانس (Prance) هېواد د پلازمېنې پاریس (Paris) په منځ کې څه شی موندل کېږي؟

**ځواب:** (r).

**۲۹۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په رڼا کې پیدا کېږي او په تیاره کې مړ کېږي؟

**ځواب:** سیوری.

**۲۹۷. پوښتنه:** یو پاونډ ښکې ډېر وزن لري او که یو پاونډ خښتې؟

**ځواب:** هیڅ یو، دا دواړه یو پاونډ وزن لري.

**۲۹۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، د سورو ډک دی، خو اوبه ترې نه وزي؟

**ځواب:** سپونج (sponge) یا اسفنج.

**۲۹۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په (t) پیل کېږي، په (t) ډکېږي او په (t) ختمیږي؟

**ځواب:** (teapot) چاینک.

**۳۰۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هیڅکله تپوس نه کوي او ځواب ورکوي؟

**ځواب:** د ور ټلی یا زنګ.

**۳۰۱. پوښتنه:** هغه کوم یوازینی ویی دی، چې په قاموس کې (wrong) تلفظ کیږي؟

**ځواب:** (wrong) ناسم.

**۳۰۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ماتولی یې شئ، خو لمس کولی یې نه شئ؟

**ځواب:** ژمنه.

**۳۰۳. پوښتنه:** کوم درې توري جنی په ښځه بدلوي؟

**ځواب:** عمر؟

**۳۰۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په ځمکه (earth) کې لومړی او په جنت (heaven) کې دویم دی. په کال (year) کې یو او په اونۍ (week) کې دوه دي. خو په میاشت (month) کې نشته؟

**ځواب:** (e).

**۳۰۵. پوښتنه:** هغه کومه پوښتنه ده، چې خلک یې ډېره کوي او ځواب یې تل سم خېژي؟

**ځواب:** څو بجې دي؟

**۳۰۶. پوښتنه:** کله تاسو کولی شئ، چې (۲) د (۱۱) سره جمع کړئ او ځواب یې (۱) شي؟

**ځواب:** په ګړۍ یا ساعت کې.

**۳۰۷. پوښتنه:** د انګلیسي ژبې کوم ویی دی، چې لومړی هم همغه شان غږ لري او چې وروستي څلور توري ترې لرې شي، بیا هم هماغه شان غږ لري؟
**ځواب:** (queue).

**۳۰۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو یې په ښـي لاس کـې نیـولی شـئ، خـو هیڅکله یې په چپ لاس کې نشئ؟
**ځواب:** خپل چپ لاس.

**۳۰۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په (beginning) پیل او (end) پای کې شـته او په (middle) منځ کې نشته؟
**ځواب:** (n).

**۳۱۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، کله چې باران راښکته کېږي هغه پورته کېږي؟
**ځواب:** چتری.

**۳۱۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ټولې نړۍ ته سفر کوي، خو پـه خپـل کـونج کې ناست وي؟
**ځواب:** (stamp) ټاپه.

**۳۱۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې (۲۱) سترګې او (٦) مخونه لري، خو لیدل نـه شي کولی؟
**ځواب:** (dice) یا د لډو شپږیزه.

**۳۱۳. پوښتنه:** کوم اته توریز ویی (۲٦) توري لري؟
**ځواب:** (Alphabet).

**۳۱۴. پوښتنه:** ته زما ورور یې خو زه ستا ورور نه یم؟ زه څوک یم؟
**ځواب:** زه ستا خور یم؟

**۳۱۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ژوندی نه دی، خو غټېږي. سږي نـه لـري، خو هوا ته اړتیا لري. خوله نه لري، خو خوراک کوي او چـې اوبـه وسـکي نـو مـړ کېږي؟
**ځواب:** اور.

**۳۱۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې غریب خلک یې لـري. شـتمن خلـک ورتـه اړتیا لري. که چېرته تاسو یې وخورئ نو مړه کېږئ؟
**ځواب:** (هیڅ شی) غریب خلک هیڅ شی نه لري او شـتمن خلـک هـیڅ شـی نـه غواړي.
**۳۱۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د ټول بڼ نه تاوېږي خو خوځېږي نه؟
**ځواب:** جنګله یا کټاره.
**۳۱۸. پوښتنه:** هغه کوم ویی دی، چې درې تـوري لـري، کـه وروسـتي دوه تـوري ترې بېل شي، نو یو رنګ غبرګ لري.
**ځواب:** (pea) مټر.
**۳۱۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څه ترې اخلئ، غټېږي؟
**ځواب:** کنده یا ډوغل.
**۳۲۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هر ځای ته ځي خو ستړی کېږي نه؟
**ځواب:** سړک.
**۳۲۱. پوښتنه:** په کوم ډول (cup) پیاله کې اوبه نه اچول کېږي؟
**ځواب:** په (cupcake) کې.
**۳۲۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هر وخت وهل کېږي، خو ژاړي نه؟
**ځواب:** هګۍ.
**۳۲۳. پوښتنه:** دا څه شـی دی، چې سـیندونه لـري. خـو اوبـه پـه کـې نشـته. ګـڼ ځنګلونه لري، خو ونې او حیوانات په کې نشته. ښارونه په کې شته، خو خلـک پـه کې نه اوسېږي؟
**ځواب:** نقشه.
**۳۲۴. پوښتنه:** په یوه کښـتۍ کـې درې کسـان ناسـت دي. کښـتۍ چپـه شـوه. خـو یوازې د دوو کسانو وېښتان لانده شول. دا ولې؟
**ځواب:** دریم کس لېنډا دی.
**۳۲۵. پوښتنه:** هغه کومه کښتۍ ده، چې دوه ملګري لري، خو کپتان نه لري؟
**ځواب:** خپلوي.

**۳۲۶. پوښتنه:** د ساحل پلار پنځه زامن لري. عمران، عدنان، جبران، ابوبکر. د پنځم زوی نوم یې څه دی؟

**ځواب:** ساحل.

**۳۲۷. پوښتنه:** د (پښتو الفباء) څو توري لري؟

**ځواب:** لس (۱۰).

**۳۲۸. پوښتنه:** (Friday) په کوم ځای کې د (Thursday) نه مخکې راځي؟

**ځواب:** په قاموس کې؟

**۳۲۹. پوښتنه:** د ایوریسټ لوړې څوکې د کشف کېدو څخه مخکې، د ځمکې پر مخ تر ټولو لوړه څوکه کومه یوه وه؟

**ځواب:** د ایوریسټ لوړه څوکه.

**۳۳۰. پوښتنه:** (candy) په دوو تورو څنګه تلفظ کېږي؟

**ځواب:** (K and D) یا C(and)Y.

**۳۳۱. پوښتنه:** یو بس ډرایور یا چلوونکی په سړک باندې د (stop) نښې تر لیدو وروسته تېر شو، ونه درېدو او د دغې نښې (no left turn) تر لیدو وروسته چپ لاس ته تاو شو. هغه د ټرافیک قوانین ولې ونه منل؟

**ځواب:** ځکه چې بس چلوونکی پیاده روان و.

**۳۳۲. پوښتنه:** د کار پیل، د ژواک پای، د هر کور سر او د هر سرک بیخ کوم دی؟

**ځواب:** د (ک) توری.

**۳۳۳. پوښتنه:** دا څه شی دی، په یوه کوټه کې ډېر کسان پراته دي. که چېرته هر یو کس د کوټې نه راوزي او د کوټې د بهر دېوال سره خپل سر ووهي نو اور اخلي؟

**ځواب:** د اورلګید تیلی یا ډکی.

**۳۳۴. پوښتنه:** یو بندي ته د بندخونې د مشر له خوا داسې وویل شول: که تا ما ته دروغ وویل: ایدامو م دې او که رښتیا دې وویل، ولم دې. هغه د بندخونې مشر ـ ته څه ووایي، چې پرېښودل شي؟

**ځواب:** ته ما ایداموې.

**۳۳۵. پوښتنه:** ماښام، ساحل او عمران يو هوټل ته لاړل. د ډوډۍ خوړلو نه وروسته دوی پيسې ورکړې. ساحل او عمران پيسې ور نه کړې. چا پيسې ورکړې؟

**ځواب:** ماښام پيسې ورکړې، ځکه چې ماښام يې هم ملگری و.

**۳۳۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې وچول کوي، نو لمديږي؟

**ځواب:** څانپاک.

**۳۳۷. پوښتنه:** په (English Alphabet) کې څومره توري دي؟

**ځواب:** (18).

**۳۳۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د ور په لور ځي، خو هيڅکله نه دننه ننوزي او نه بهر راوزي؟

**ځواب:** د کيلي يا چابي سوری.

**۳۳۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې نيول او وژل کوي، خو په سترگو نه ليدل کيږي؟

**ځواب:** برېښنا يا برق.

**۳۴۰. پوښتنه:** هغه څوک دی، چې هره ورځ څو څو کرتې ږيره ښريي، خو اوس يې هم ږيره شته؟

**ځواب:** ږيرور نايي.

**۳۴۱. پوښتنه:** د انگليسي ژبې کوم دوه توري چې د سړي سره شي، د سړي نه ښځه جوړيږي؟

**ځواب:** (wo).

**۳۴۲. پوښتنه:** څوک تل د خپلو بوټانو سره ويده کيږي؟

**ځواب:** اس.

**۳۴۳. پوښتنه:** هغه کوم ډول ټيبل دی، چې خوړل کيږي؟

**ځواب:** (ويجي ټيبل) يانې سابه.

**۳۴۴. پوښتنه:** دا څه شی دی، چې يو لوی ميدان دی. څلور رنگه فوځونه په کې د يو بل سره جنگيږي؟

**ځواب:** لډو.

**۳۴۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې کوڼ دی. گونگ دی. ړوند دی او تل رښتیا وايي؟

**ځواب:** ائینه.

۳۴۶. پوښتنه: هغه کوم حیوان دی، چې د ورځې ویده وي او د شپې الوزي، خو وزرې نه لري؟

**ځواب:** ښاپېرک.

**۳۴۷. پوښتنه:** یو شپون په جمعه باندې یو ښار ته سفر کوي؟ هلته درې ورځې پاتې کېږي او بېرته په جمعه باندې رخصتېږي. دا څنگه کېدی شي؟

**ځواب:** د اسپې نوم یې جمعه دی.

**۳۴۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې لویه ژبه لري، خو خوند پرې نه شي کتلی؟

**ځواب:** بوټ.

**۳۴۹. پوښتنه:** کله چې زه (۱۲) کلن وم. زما د ورور عمر زما په نیمه و. اوس زه (٦٦) کلن یم. هغه به څو کلن وي؟

**ځواب:** (٦٠) کلن.

**۳۵۰. پوښتنه:** یو سړی په زړه کې په چاقو باندې ووهل شو، هیڅا هغه ونه ژغورلو. خو هغه مړ نه شو. دا څنگه کېدای شي؟

**ځواب:** هغه د مخکې نه مړ و.

**۳۵۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې کله ښکته ځي او کله پورته، خو په ملا کې تړل شوی وي او خپل ځای نه پرېږدي؟

**ځواب:** انډیچوق یا هغه شی چې ماشومان پرې ناست وي او یوه خوا یې چې ښکته شي بله یې پورته شي.

**۳۵۲. پوښتنه:** هغه کوم ویی دی، چې شپږ توري لري. که چېرته یو توری ترې لرې شي، نو دولس پاتې کېږي؟

**ځواب:** ((dozens) درجن، که (s) ترې لرې شي، (dozen) پاتې کېږي، چې د درجن یا دولس دانو په مانا دی.

**۳۵۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې که چېرته د حد نه زیات تود شي، ورکېږي او که د حد نه زیات سوړ شي، کلکېږي؟
**ځواب:** واوره.
**۳۵۴. پوښتنه:** هغه څوک دی، چې ستا د نیکه او نیا زوی دی، خو ستا تره نه دی؟
**ځواب:** ستا پلار.
**۳۵۵. پوښتنه:** هغه کوم درې عددونه دي، چې که سره جمع یې کړې او که ضرب یې کړې د دواړو حاصل یو رنګ راوزي؟
**ځواب:** (۱،۲،۳).
**۳۵۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې که لومړی، منځنی او وروستی توری یې لرې هم شي، بیا هم هماغه رنګ غږ لري؟
**ځواب:** (empty)، MT
**۳۵۷. پوښتنه:** که چېرته یو پیشو پنځه فیته اوچت ټوپ وهلی شي. بیا ولې هغه درې فیته کړکۍ ته دننه ټوپ نه شي وهلی؟
**ځواب:** ځکه چې کړکۍ بنده ده.
**۳۵۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې سهار په څلورو، ماسپښین په دوو او ماښام په درېو ښپو ګرځي؟
**ځواب:** انسان، چې ماشوم وي، په دوو ښپو او دوو لاسونو ګرځي. چې ځوان شي، په دوو ښپو ګرځي او چې بوډا شي. نو په دوو ښپو او یوه امسا ګرځي.
**۳۵۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې هره ورځ اورو خو یوازې یو ځل یې لیدی شو؟
**ځواب:** پرون.
**۳۶۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو یې لرئ، خو لیدی یې نه شئ؟
**ځواب:** هیله.
**۳۶۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څومره تاسو یئ هغومره هغه دی، خو وزن نه لري؟
**ځواب:** ستاسو سیوری.

**۳۶۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په ژبه خبرې کوي، او ساه نشي اخیستلی؟
**ځواب:** ټلی یا ګینګړی.
**۳۶۳. پوښتنه:** که چېرته تاسو یوه سپینه ګټه یا تیره په سور سمندر کې واچوئ، نو هغه به څنګه شي؟
**ځواب:** لنده.
**۳۶۴. پوښتنه:** زه د خپلو نورو څلورو ورونو او خویندو نه وړه او لنډه یم. خو د هغوی نه مشره او غښتلې یم. زه څوک یم؟
**ځواب:** غټه ګوته.
**۳۶۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څلور پنځه ګوتې لري، خو ژوندی نه دی؟
**ځواب:** لاسکشې.
**۳۶۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ډېر غاښونه لري، خو چیچل نه شي کولی او په هر کور کې پیدا کېږي؟
**ځواب:** ږمنځ.
**۳۶۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ښپې یې په سر کې وي او روان وي؟
**ځواب:** د چت پکی.
**۳۶۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې له تاسره ګرد ګرځي. چې ته کښېنې درسره کښني. چې ته ودرېږې، درسره ودرېږي، خو کله کله درنه ورک شي. چې بیا یې پیدا کولی نشې؟
**ځواب:** ستا سوری.
**۳۶۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د اوبو نه جوړ دی، خو چې اوبو ته یې ورواړتوې نو مړ کېږي؟
**ځواب:** واوره.
**۳۷۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د قاضي سره هم وي او د ترکاڼ سره هم وي. د لرګي نه هم جوړېږي او د اوسپنې نه هم جوړېږي؟
**ځواب:** څټکی.
**۳۷۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې یوه روغه سترګه لري، خو لیدل پرې نه شي

کولی؟

**ځواب:** د ګنډلو ستن.

**۳۷۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې یو سر لري. خوله نه لري او د پوستکي په واسطه خبرې کوي؟

**ځواب:** چمبه.

**۳۷۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مخامخ دوه سترګې لري او شاته ډېرې سترګې لري؟

**ځواب:** طاوس.

**۳۷۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د ناروغتیا څخه ګټه پورته کوي؟

**ځواب:** ډاکټر یا رنځپوه.

**۳۷۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې اوږد پیداکیږي او لنډ مړ کیږي؟

**ځواب:** پنسل.

**۳۷۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې کله د یو سره وي، کله د بل سره. د مالوچو نه سپک دی. د شتمنو خلکو سره وي او غریب خلک ورته اړتیا لري؟

**ځواب:** پیسې.

**۳۷۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په هوا کې اوسېږي. خو تر څو چې مونږ راکوز کړی نه وي. نه راکوزېږي؟

**ځواب:** بیرغ.

**۳۷۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې الوزي خو وزرې نه لري؟

**ځواب:** پتنګ یا ګلیپران

**۳۷۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې وربخ یې مور ده. جاکړ یې پلار دی. تل ښکته راځي او هیڅکله پورته نه ځي؟

**ځواب:** باران.

**۳۸۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هیڅ وزن نه لري. د هوا نه سپک دی او د نړۍ تر ټولو طاقتور کس یې نه شي اوچتولی؟

**ځواب:** د صابن پوکڼی.

**۳۸۱. پوښتنه:** یو سور کور د سرو ښختو نه جوړېږي، نو شین کور به د کوم رنګ ښختو نه جوړ شي؟

**ځواب:** د سرو ښختو نه.

**۳۸۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې غتېږي، خو پېړېږي نه؟

**ځواب:** واښه.

**۳۸۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په (t) پیل او په (t) ختمېږي او (t) په کې اچول کېږي؟

**ځواب:** (teapot).

**۳۸۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ژوندی وي، وړوکی کېږي او چې مړ شي، نه وړوکی کېږي؟

**ځواب:** شمه.

**۳۸۵. پوښتنه:** په یوه ټوکرۍ کې پنځه منې دي. دا څنګه د پنځو ماشومانو تر منځ ویشلو شو، چې یوه منه په ټوکرۍ کې پاتې هم شي؟

**ځواب:** پنځم ماشوم ته به منه په ټوکرۍ کې ورکړو.

**۳۸۶. پوښتنه:** هغه کوم انګلیسي شپږ توریز ویی دی، چې لومړي درې توري یې ګاړی دی. وروستي درې توري یې یو کورنی حیوان دی. لومړي څلور توري یې یو ډول ماهي دی او ټول توري یې داسې یو شی دی، چې ستاسو په کوټه کې پیدا کېږي؟

**ځواب:** (carpet).

**۳۸۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د یو کس نه دوه جوړوي؟

**ځواب:** ائینه یا هنداره.

**۳۸۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مخامخ ورته وګورې یو کس دی. خو چې شاته ورته وګورې یو کس هم نشته؟

**ځواب:** ائینه یا هنداره.

**۳۸۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې توره شي پاکه شي او چې سپینه شي خیرنه شي؟

**ځواب:** د تباشير توره تخته.

**۳۹۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څه ترې راخلې، نو غټېږي؟

**ځواب:** کنده.

**۳۹۱. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ګرمي يې ورکوي او يخني يې ژوندی ساتي؟

**ځواب:** واوره.

**۳۹۲. پوښتنه:** که تاسو د ځغاستې يا منډې په سيالۍ کې منډه وهئ او د دويم کس نه تېر شئ، نو تاسو په کوم مقام کې يئ؟

**ځواب:** تاسو په دويم مقام کې يئ. ځکه چې تاسو د لومړي کس څخه نه يئ تېر شوي.

**۳۹۳. پوښتنه:** که چېرته ستاسو سره درې امونه وي او دوه امونه ترې واخلئ، نو څو درسره پاتې شول؟

**ځواب:** همغه درې. ځکه چې درېواړه اوس هم له تاسو سره دي.

**۳۹۴. پوښتنه:** د پښتو ژبې کوم ويی تل ناسم لوستل کېږي؟

**ځواب:** ناسم.

**۳۹۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو يې د ترلاسه کولو مخکې اخلئ؟

**ځواب:** انځور.

**۳۹۶. پوښتنه:** يو غټ او يو وړوکی کس چکر ته لاړل. غټ کس د وړوکي کس پلار نه دی. خو وړوکی کس د غټ کس زوی دی. د دواړو تر منځ کومه خپلوي ده؟

**ځواب:** غټ کس د وړوکي کس مور ده.

**۳۹۷. پوښتنه:** کوم انګليسي مشهور ويی په (is) پيل کېږي. په (and) پای مومي او په منځ کې (la) لري؟ **ځواب:** (island).

**۳۹۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې خوشحالېږي هم. خپه کېږي هم. ماتېږي هم او کلکېږي هم. بايلل کېږي هم او ګټل کېږي هم؟ **ځواب:** زړه.

**۳۹۹. پوښتنه:** زه د خپل زوی نه څلور ځله لوی يم. شل کاله وروسته به زه د هغه څخه دوه ځله لوی يم. اوس مونږ دواړه څو کلن يو؟

**ځواب:** زه څلوېښت کلن يم او زوی مې لس کلن دی.

**۴۰۰. پوښتنه:** یوه الوتکه د امریکا او مکسیکو پر پوله وغورځېده. اوس په الوتکه کې د چلوونکي پرته لس کسان دي. پاتې کسان به چېرته ښخوي؟

**ځواب:** پاتې کسان هم ژوندي دي؟

**۴۰۱. پوښتنه:** کوم (dress) هر څوک لري، خو هیڅوک یې ناغوندي؟

**ځواب:** (address).

**۴۰۲. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې غاښونه هم لري او چیچل هم کوي، خو ژوندی نه دی؟

**ځواب:** اره.

**۴۰۳. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په سمندر کې اوسېږي. اته متې لري، خو ښپې نه لري؟

**ځواب:** (اکټوپس) octopus.

**۴۰۴. پوښتنه:** کوم وخت تاسو ته دروغ سل په سلو کې رښتیا ښکاري؟

**ځواب:** کله چې مونږ خوب وینو.

**۴۰۵. پوښتنه:** په عمومي توګه د څه شي نه ښځه جوړېږي؟

**ځواب:** د وړې جینۍ نه.

**۴۰۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې لکۍ هم لري. سترګې هم لري په هوا کې الوزي، خو ساه نه لري؟

**ځواب:** پتنګ یا ګلیپران

**۴۰۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې اوبه یې مړ کوي، خو اور یې نه سوځوي؟

**ځواب:** واوره.

**۴۰۸. پوښتنه:** ټلویزیون یا لروینون څه وخت سفر کوي؟

**ځواب:** کله چې یې ځای بدلېږي؟

**۴۰۹. پوښتنه:** کوم ډول (sweets) ځمکپېژندونکي خوښوي؟

**ځواب:** (rock candy).

**۴۱۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې په سر کې هم سوري لري. په بېخ کې هم سوري لري. کینې خوا ته هم سوري لري. ښۍ خوا ته هم سوري لري. په منځ کې

هم سوري لري. خو بيا ترې هم اوبه نه وزي؟

**ځواب:** سفونج يا اسفنج.

**۴۱۱. پوښتنه:** هغه څه شي دی، چې ګڼ ځنګل دی. ډېرې ونې په کې ولاړې دي. تور تور ځناور په کې هم پيدا کېږي. چې کله يې څوک پرې کړي. ډېر زر بېرته غټېږي.

**ځواب:** د سر وېښتان.

**۴۱۲. پوښتنه:** کله چې تاسو د اوو برخو پراټې نه پنځه برخې پراټه واخلئ، نو څه پېښېږي؟

**ځواب:** هيڅ هم نه.

**۴۱۳. پوښتنه:** هغه څه شي دی، چې کميس يې ايستل کېږي. پوټکی يې خوړل کېږي. او بدن يې غورځول کېږي؟

**ځواب:** د جوارو وږی.

**۴۱۴. پوښتنه:** کومه اله اورېدل کېدی شي، خو ليدل کېدی نه شي؟

**ځواب:** ستاسو غږ.

**۴۱۵. پوښتنه:** کومه لوبه خوړل کېږي؟

**ځواب:** سکواش، ځکه چې سکواش يو ډول خواړه هم دي؟

**۴۱۶. پوښتنه:** دوه کسان د سطرنج لوبه کوي او دواړه لوبه ګټي. داسې څنګه کېږي؟

**ځواب:** دوی دواړه د بل چا په مقابل کې لوبه کوي؟

**۴۱۷. پوښتنه:** زه يو اس يم. خو بدن او ښپې نه لرم. زه کوم ډول اس يم؟

**ځواب:** horse/knight (a chess piece)

**۴۱۸. پوښتنه:** هغه کوم پنځه شيان دي. چې تاسو يې کاروئ او هغه تاسو ټول په (tennis court) کې موندلی شئ.

**ځواب:** (د انګليسي ژبې پنځه غږيز توري: (a, e, i, o, u).

**۴۱۹. پوښتنه:** د بيس بال د لوبې لوبغاړي د لوبې تر پېل کېدو د مخه څنګه پوهېږي، چې سکور يا نمرې (0-0) دي؟

**ځواب:** د لوبې تر پېل کېدو د مخه سکور تل (0-0) وي.

۴۲۰. **پوښتنه:** پنځه کسه د سطرنج لوبه کوي. دوی پنځه لوبې کوي او هر يو يو شان نمرې ترلاسه کوي. دا څنګه کيدای شي؟

**ځواب:** بدل بدل کسان د سطرنج لوبه کوي.

۴۲۱. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې منډې وهي خو ښپې نه لري؟

**ځواب:** توپ يا بال.

۴۲۲. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څوك ورته په اوږده منډه کې اړتيا لري؟

**ځواب:** ساه.

۴۲۳. **پوښتنه:** هغه کب ته څه ويل کيږي، چې يوه سترګه نه لري؟

**ځواب:** کب.

۴۲۴. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې بې وزرو الوتی شي؟

**ځواب:** وخت يا مهال.

۴۲۵. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د ښي او کيڼې خوا څخه يو شان لوستل کيږي؟

**ځواب:** (noon).

۴۲۶. **پوښتنه:** دوه کسان په يو وخت پيدا شول. خو د دوی د پيدايښت ورځ يوه نه ده. دا څنګه کيدای شي؟

**ځواب:** دوی دواړه ماښام پيدا شول. خو يو ماښام او بل ماښام.

۴۲۷. **پوښتنه:** غلو څه تر لاسه کړل، کله چې دوی لس کليزونه پټ کړل؟

**ځواب:** لس کاله.

۴۲۸. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ډېرې کيلي ګانې لري، خو يو قولف نشي-پرانيستلی؟

**ځواب:** پيانو.

۴۲۹. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ښارونو او کليو ته ځي، خو خوځيږي نه؟

**ځواب:** سړك.

۴۳۰. **پوښتنه:** په کومه مياشت کې خلك لږ ويده کيږي؟

**ځواب:** په فيبروري کې، په دې مياشت کې شپې لنډې وي.

**۴۳۱. پوښتنه:** یو سړی په باران کې ولاړ دی. نه ورسره چترۍ شته او نه خولۍ. خو په سر یې یو وېښته هم لوند نه ښکاري. ولې؟

**ځواب:** دا سړی په سر ګنجی دی.

**۴۳۲. پوښتنه:** زه هره ورځ ډېره ښریم خو بیا مې هم ډېره شته. زه څوک یم؟

**ځواب:** نایي.

**۴۳۳. پوښتنه:** یو سړی کوټې ته ننوت. په کوټه کې یو تیلی، یوه شمع، یوه ډیوه او یوه بخارۍ ده. دی به لومړی کومه یوه روښانه کوي؟

**ځواب:** تیلی.

**۴۳۴. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ځانګې لري، خو مېوې، تنه او پاڼې نه لري؟

**ځواب:** بانک یا بینک.

**۴۳۵. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ستا سره هر ځای ته ځي، خو ته یې لمس کولی او لیدلی نه شې؟

**ځواب:** ستا سوری.

**۴۳۶. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې څومره یې تاسو اخلئ، هغومره درنه شاته پاتې کېږي؟

**ځواب:** ستاسو ګام.

**۴۳۷. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ژوندی نه دی، خو غټېدی شي. سږي نه لري، خو هوا ته اړتیا لري. خوله نه لري، خو خوراک کوي.

**ځواب:** اور.

**۴۳۸. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هر لور ته اشاره کوي، خو پخپله منزل ته نه شي رسېدی؟

**ځواب:** ستاسو ګوته.

**۴۳۹. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې دوه لاسونه لري، خو خپل ځان نه شي لمس کولی؟

**ځواب:** ساعت.

**۴۴۰. پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې ویل کېدی هم شي، جوړېدی هم شي او

کیدی هم شي؟

**ځواب:** ټوکه.

۴۴۱. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې د رمضان سر او د سمندر پای دی او په کور کې هم پیدا کیږي؟

**ځواب:** د (ر) توری.

۴۴۲. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ د هغه پرته ژوندي نه شو پاتې کېدی، خو چې له مونږ چاپېره شي، نو وژني مو؟

**ځواب:** اوبه.

۴۴۳. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې نه پښې لري. نه لاسونه لري. نه وزرې لري، خو پاس ختی شي؟

**ځواب:** لوگی.

۴۴۴. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې تاسو نیولی هم شي او تاسو وهلی هم شي، خو په سترگو نه لیدل کیږي؟

**ځواب:** یخني یا ساړه.

۴۴۵. **پوښتنه:** د دریاب لومړی سر او د سیند وروستی سر پیدا کړئ؟

**ځواب:** د (د) توری.

۴۴۶. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې سر ترې جدا کړې بیا هم نه مړ کیږي؟

**ځواب:** بوتل.

۴۴۷. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې یوه بنده کوټه ده. ور، کړکی او اشادار نه لري او یو ماشوم په کې پروت دی؟

**ځواب:** هگۍ ده، چې بچی په کې پروت دی.

۴۴۸. **پوښتنه:** د کال کومه میاشت (۲۸) ورځې لري؟ **ځواب:** ټولې میاشتې.

۴۴۹. **پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې مونږ یې هیڅکله ماسپښین نه شو کولی؟

**ځواب:** د سهار، مازیگر، ماښام او ماسختن لمونځ.

۴۵۰. **پوښتنه:** هغه کوم ځای دی، چې د هغې نه ټوله نړۍ لیدل کیږي؟

**ځواب:** د نړۍ نقشه.